عبدالحکیم سامع ۲۰۱۲/۰۹/۲۰

# مور به هغه څوک یو چه یو، پدی شرط چه ځان وپیژنو!

د محترم محمد آصف خواتی د لیکنی سرلیک چه می ولوست: «مور نو څوک یو؟»، زه یی هم دی ته و هڅولم، چه څو کرښی ولیکم. البته زه ددوی ددی متن په باب مشخص څه نه وایم. دا ددوی نظر او حق دی او زه بیله دی څخه چه ددوی پر لیکنی باندی تبصره و کړم، فقط د سرلیک د کرښی دکلماتو تر مفهوم لاندی څه ویل غواړم. کله چه زه دتیرو ورځو ځینی لیکنی وینم ، چه د «پرنسیپ» پر بنسټ تر ډیرو نورو تیرسویو لیکنو څخه فرق نلری، مور د تاریخی «پسمانی» په «کنده» کښی پراته یو، او پر احساساتو باندی ولاړ او د غضب او « قهر» څخه ډک، ددی پرځای چه پر موضوع باندی، صمیمانه بحث وکړو او خپلی زدکړی سره بدل کړو، تر څو چه دکومی احتمالی ستونزی د حل لاره پیدا کړو، نو د شهرت طلبی او فردی «دبنمنی» تر سیوری لاندی لګیا یو، تر څو چه د مقابلی میدان وګټو.

تر دیرش کاله زیات بحران کښی مور د لیکوالانو، شاعرانو، سیاستوالو او جنګیانو په لیکنو کښی د «انقلاب»، «حادثه»، «مصالحه»، «جهاد»، «آزادی»، «حل وعقد»، «امربالمعروف و نحی عن المنکر» او په زر هاو نور مفاهیم، واوریدل. د تاریخ د پاڼو څخه مو غلط انتباهګانی خپری کړی. زمونږ تاریخی او ملی هویت د خطر سره مخامخ سو، لیکن زمونږلیکوالان ددی پر ځای، چه د ملی سیاست تعریف د نړی د اوسنی شرایطو په چوکات کښی وړاندی کړی، دا چی پوهیږی که نه پوهیږی، ګروپی یا ذهنی مطالب وړاندی کوی. ملی یووالی په خوله راوړو، مګر قومی سیاست پر مخ بیایو. د یوی خوا څخه ملی هویت «مقدس» بولو، مګر له بلی خوا بیا ددی پر ځای، چه ټولو افغانانو، ته په یوه سترګه وګورو، په ملت کښی د «سپیڅلو پښتنو » په «نقل قول» پسی ګرځو. د دی پر ځای چه موضوع ته پاملرنه وکړو، خو ویونکی ته سترګی نیسو.

تر اوسه پوری واضح معلومه نده چه آیا، زمونږ دا لیکوالان واقعاً خپل تاریخی افتخاراتو ته هغسی چه په خوله وایی او یا یی لیکی، عمل هم وربآندی کوی او که نه. د خپلواکی د تر لاسه کولو وروسته، ۹۳ کاله تیر سوه. او د اعلیحضرت امان الله خان دسقوط څخه را پد یخوا، نږدی ۸۳ کاله تیر سوه . د سقاوی اغتشاش دوره تر یوه کال لږ دوام وکړ. د سقاوی اغتشاش چه د «امانی دوری» د اصلاحاتو د ضد حرکت په استفادی سره، د اعلیحضرت امان الله خان «پاچاهی» نسکوره کړه، د یوی «داخلی بحران» په شکل میدان ته راغلی وو. او وروسته داداخلی بحران، د پخوانی دفاع وزیر، سپهسالار او د استقلال د جګړی د فاتح ، محمد نادر خان تر رهبری لاندی پای ته ورسید. دری کاله وروسته دی شهید سو او زوی یی څلویښت کاله دا ملک د جنګ څخه فارغ اداره کړ. دا چه خارجی لاس وهنی او په تیره بیا د انګریزی لوی استعماری قدرت، (چه زمونږ د پخوانی خاوری یوه برخه تر کنترول او تصرف لاندی درلود)، به په څه اندازه، د اصلاحاتو د ناکامیدو اصلی، نقش لوبولی وی، یعنی کوم عامل یا «فکتور» به یی د سقوط لمړنی رول درلودلی وی، اوس ۸۳ کاله وروسته، حکم کول سخت دی، خوهر څوک به خپل انځور ولری. واقعیت دادی چه که د اعلیحضرت امان الله خان په سقوط کی د «انګریزانو» لاس وهنی لمړی اثر درلودلی وی او که نه، ما ته د محترمی «نجیبه قانع» اظهارات، چه د لمړی ځل د پاره اورم، د ډیری پاملرنی وړ ده، چه همدا نن د سپتمبر په ۱۷ نیټه لیکلی دی:« مکثی بر اوامر اعلیحضرت امان الله خان»

د خپل متن په پیل کی دا ډول پر ځایه پوښتنه مطرح کوی، چه زه پخپله ور ته ګنګ پاته یم، ځکه تر اوسه پوری پدی نه پوهیدم. مخ کی تر دی چه د هغی ګرانی میرمنی پوښتنه را نقل کړم، هغی ته کور ودانی یادوم.
پوښتنه یی داده:« آیا این امر اعلیحضرت در نظر شما درست بود؟ که به دوکانداران در آنوقت گفته بود کلاه شپو بپوشند و یا بجای روز جمعه روز یکشنبه رخصتی باشد ؟ » (افغان جرمن آنلاین دسپتمبر ۱۷، ۲۰۱۲م کال)

مخ کښی تر دی چه زه نور پر دی دوری باندی و ږغیږم، فقط دا وایم، چه افغانستان د خپلواکی ورځ ما ته ډیر د قدر وړ او د افغانستان په ټولنیز او تاریخی ژوند کی تر ټولو افتخاراتو لوړ دی، چه دا افتخار د افغانستان – انګریز» د دریم جنګ په نتیجه کښی زمونږ د خلګو په نصیب سوی، د اعلیحضرت امان الله خان د پاچاهی سره سمون خوری، چه همدی ورځ د نورو شهیدانو او ننګیالیو جنرالانو او د مشرانو قهرمانی نسو هیرولای. ځکه ددی خاوری خپلواکی د چا شخصی ملکیت ندی. ګټونکی یی خلګ دی، چه رهبران یی د جنګ په میدان کښی په توره ګټلی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پدی وروستیو ورځو کښی، ما تر دی سرلیک لاندی:« افغانستان د خپل خپلواکی پراختیا په لمړی پړاو کښی! (۱۹۱۹ – ۱۹۲۹) یوه « ژباړه: دوکتور محمد اکبر یوسفی» و لوستله، چه د « ځیرونکی: «ویکتور کورګون» (Viktor Korgun) د تاریخی علومو کاندید.» په نامه یاد سوی.

پدی مطلب کښی یوه سلسله «فکتونه»، چه ددی مرحلی د مهمو تاریخی ستونځو او لاس ته راوړنی بیان سوی، د لوستلو وړ بولم، غواړم ځینی ټیکی، د آسانتیا په مقصد، ګرانو لوستونکو ته را نقل کړم:« ... د ځلمی افغانانو فعالیتونه، ورځ په ورځ د سیاسی خاصیت د ودی بڼه یی ځانته نیول. په «سراج الاخبار» کښی د انګریزی امپریالیستی استعمار سیاست پر ضد لیکل او خلک یی د علنی مبارزی لاری ته د هیواد د خپلواکی د پاره پارول...

په سازمانی لحاظ، ځوان افغانان د یوی پټی اتحادیی سره، چه «مشروطه» قانون یادیدل، یو ځای سوی وه، چه په ټولو ښارونو کښی خپلی شعبی درلودلی. دوی «شبنامی» او «ابلاغیی» خپرولی او په «محافلو» او «میتنګونو» کښی ویناوی کولی. د ځوان افغانانو په «پلاتفرم» کښی د موجوده بورژوازی یا پانګوالی د « ایدیولوژی» عناصرهم ځای کړل سوی وه: د سوداګری پانګه، د «نیمه ملاکی» د امتعو خاوندان، یعنی د ملی پانګوالی «ایدیولوژی».

د ځوان افغانانو سیاسی مخالفین زاړه افغانان او لوړ رتبه مقامات وه، چه د نصرالله خان، د امیر حبیباللّه خان ورور د خوا، رهبری کیدل. د زړو افغانانو «ایدیولوژی» د روحانیت د متعصبو حلقو د خوا ټاکل سوی وو، چه د زاړه «فیودالی نظام» او د هغه د دستګاه د ساتلو او د مذهبی عنعنو او رسم او رواجونو د ساتلو پلوی کوله. لکه د ځوان افغانانو په شان، زاړه افغانان هم د خارجیانو د بیحده، نفوذ پر ضد وه، مګر په خبل مینځ کښی هم متضادی موضعګیری او دریځونه درلودل. دوی ملی آزادی یا ملی خپلواکی غوښتل، تر څو چه هیواد په پای کښی بیخی د نړی څخه بشپړ جلا او تجرید کړی او زاړه رسوم او دودونه او عنعناتوته بیرته ور وګرځی. دهمدی هدف پر بنسټ، د هر ډول نوی پرمخ تلونکی پر ضد کرکه او نفرت خپرول او مدعی وه، چه دا ټول غیر اسلامی او مرتد دی، یعنی د غرب د خوا راغلی. ..... د ۱۹۱۹م کل د فبروری په میاشت کښی ووژل سو. ځوان افغانان د امیر امان الله تر رهبری لاندی، قدرت ته ورسیدل. د نوی امیر لمړنی مهم سیاسی اقدام، هغی هڅی وی، چه غوښتل د هیواد خپلواکی، د صلحیزی لاری څخه تر لاسه کړی. د مارچ د میاشتی په دریمه نیټه، د هند در«ویسرای» څخه و غوښتل، چه پخوانی غیر مساوی قراردادونه دی لغو کړی. انګریزی مقامات دا غوښتنه رد کړه. چه په پای کښی یواځنی لاره، یعنی وسلوال لاره پاته سوه. د می د میاشتی په دریمه نیټه د افغان – هند پلونو کښی وسلوالی نښتی پیل سوی. ... «ریفرم» لمړنی پړاو (۱۹۱۹ – ۱۹۲۳) په درو برخو باندی ویشلای سو: سیاسي، اقتصادي او ټولنیز(په وروستی برخی پوری د ژوند طریقه هم مطرح ده). د سیاسی بدلونونو په لړ کښی عمده او اساسی بدلون د ۱۹۲۳ اساسی قانون تصویب(«د افغانستان د عالیه دولت اساسی قانون») شمیرل کیږی.... په ۱۹۲۳م کال کښي د صنعت د ودی قانون هم تصویب سو. مګرد صنعتي هڅې بې نتيجې پاته سوی. داځکه چه ضروری مالي امکانات په لاس کې نه درلودل او خصوصي پانګه هم تر صنعت، په سوداګری برخه کښي پانګوالي ته ترجيح ورکاوه، کوم چه پر ګټه يې ډيرباوری وه. ..
د ټولنیز «ریفرمونو» په برخه کښی هغه هڅی او اقدامات شامل وه، چه تعلیم او تربیه د «سیکولاریزم» یا دینوی اصولو پر بنسټ ولاړ وی. د ښونځیو د شبکی پراختیا او داسی نور. د «ریفرم» سیاست، چه په لمړی قدم کي د نوی «طبقاتو» په خدمت کښی باید وای، چه د کمیت له نظره څخه ضعیف وه، په حقیقت کی د قهر څخه ډک وینه په ټولنیز ډلو کښی جریان و موند، چه خپله د زاړه «فیوډالی» وضعیت په ګټه کار وکړی. د کرهنی په برخه کی د ځوان افغانانو هڅی او اقدامات، د خاوندانو او شتمنو، محتکرینو،مأمورینو او د لویی مځکی خاوندانو د ګټو سره ټکر وکړ، چه بزګران یی د دوی د مځکو د ټوټو څخه و شړل او د هغوی د فقر او دربدری سبب وګرځید، ددی پر ځای چه د دوی د فقر مخنیوی کړی وای. په نتیجه کښی بزګر هیڅ یو حقیقی استفاده د دی بدلونونو څخه ندی تر لاسه کړی، او د ټولنیز بنسټی قوتونه، چه د «ریفرم» پر خلاف ودریدل عبارت وه د: عالي روحانیت، د مځکي د ستر خاوندانو حلقي، قومي «ارستوکراسي» او یا د حکومت پلوه قومي متنفذين.. د ۱۹۲۴م کال په لمړني میاشتو کښي، په خوست کښي میشته قومونه، چه د جنوب ولایت پوری مربوط وه، لکه « غلځی» (Gilzei)، «منګل» (Mangal)، «جدران»(Jadran ) (ځدران) د حکومت پر ضد را وپاخیدل. د دی پاڅون رهبری، ملا عبدالله لنګ او عبدالرشید په لاس کي درلودل. پاڅون والو او یا قیام کوونکو، خپلی خواستی، کابل حکومت ته د «مالیاتو» د «ټیټولو» او یا «تخفیف» په خاطر او د هند سره د آزادی سوداګری د بیا پیل کیدلو غوښتنی وړاندی کړی. او همدا ډول د نوی قوانین او یو لړ «ریفرمونه» چه د اسلام سره په ضدیت کی وه، هم یادونه سوی وه. ... د ۱۹۲۷م کال په پای، او د ۱۹۲۸م کال په لمړی نیمایی کی، پاچا امان الله د خپل یو شمیر وزیران او مشاورینو په ملګرتیا، داروپا او آسیا هیوادونو ته په سفر بخت سو. نیمه رسمی ورځپانه د «امان افغان» په نوم د دی سفر په باب


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

داسی لیکلی: « دا سفر د دی هدف د پاره ده چه د یوه لوړ ژوند او ګړندی پرمختګ زموږ د هیواد د پاره، د شرایطو په برابرولو کښی برخه واخلی.» (۲)...د ۱۹۲۸م کال په لویه جرګه کښی چه د أګست په ۲۸ نیټه جوړه سوه، پاچا د خپل سفر په باب یو راپور او د یوی نوی «ریفرم» طرح وړاندی کړه. همدا رنګه لکه د ۱۹۱۹ – ۱۹۲۳ په شان، د قانون طرح لویی جرګی ته، چه په لمړی قدم کښی د «فیودالی» دستګاه پر ضد، او اسلامی «نورمونو» په باب، چه په هیواد کښی د سرمایداری انکشاف پر لاری د خنډ سبب ګرځید ، وړاندی سول. د لویو مځکو خاوندان او د قومونو «ارستوکراسی» څخه – یعنی د زاړه فیودالی شاه طلبه، د رژیم پلویان – ډیر امتیازونه (القاب او نښانونه او داسی نور) تر لاسه کړل... د ۱۹۲۸م کال د «اکتوبر» د میاشت په پیل کی،«درباری» ته یو زیات شمیر د «ریفورمونو» نوی طرحی وړاندی سوی وی: د نجونو او هلکانو یو ځای تعلیم تر ۱۱ کلنی عمر پوری. د تحصیل د پاره د ځوان افغانان او ځوانی افغانانی، خارج ته استول، د کثیرالازدواج منع، د چادری لیری کول د مثال په توګه. د«درباری» برخوال دا ټول وړاندیزونه منلی وه او د داسی طرحی سوی موضوعاتو څخه هم ملاتړ ښودلی وه، که څه هم ډیری یی ورځینی خوشحاله نه وه...
په هره پیمانه چه امان الله، افراطی یا «رادیکال» ټولنیز او سیاسی تغییراتو ته تمایل ښودل، په هغه کچه به مقاومت دده د سیاست په ضد ښودل کیده. پاچا په ډیر تردد او مأیوسی، هڅه کول چه یوه سیاسی پایه د ریفرم د تطبیق د پاره جوړ کړی. په همدی هدف، د ۱۹۲۸م کال د منی فصل په میاشتو کی، هڅی وکړی چه د ځوان افغانانو څخه - «د استقلال او تجدد» ګوند، سیاسی صحنی ته را وباسی، مګر دا هم بریالیتوب را نه وړه. د ځوان افغانانو، زوړ «ګارد» ، چه د امیر حبیب الله خان (سراج:ژباړونکی) په دوره کی «اپوزیسونی» موقف درلودل، د پاچا د افراطیت یا «رادیکالیزم» څخه ویره درلودله، پدی سبب دوی معتدله موضعګیری ځانته غوره کړل...
د «جنوری» په ۱۴ – مه نیټه، د شپی سره سم، پاچا امان الله د خپل مشر ورور عنایت الله خان په ګټه استعفاء وکړه، او په بله ورځ، د خپل مربوطاتو سره، د قندهار په مقصد و ښتید.»

ګرانو لوستونکو، د ګیمی قوس په مینځ کښی لیکل سوی متن، زما نظر ندی، بلکه د یوخارجی محقق د «ژباړی» څخه نیول سوی. مونږ باید، عادت وکړوچه لمړی «فکتونه» و لولو او په ډیره سړه سینه د تاریخی واقعوڅخه زده کړو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ